# د جمهوری ریاست ګډه اعلامیه

د امریکا ولسمشر بارک اوباما او دافغانستان ولسمشر حامد کرزي، چې لوړپوړي پلاوو ورسره ملتیا کوله؛ د هراړخیزه مسایلو په اړه د ۲۰۱۰ زیږدیز کال، د مي د میاشتې په ۱۱-۱۲مه خبري اتري وکړي. د دغو کتنو موخه دا وه چې د هغو ګډو مسایلو په اړه چې د امریکې متحده ایالاتو او افغانستان ته ډیر اهمیت لري، خپل منځي همکاری نوری هم لا زیاتي کړي. دغه بحثونه د حکومتداری، امنیت، اقتصادي او ټولنیزي پراختیا او هغو سیمه ایزو مسایلو په اړه وو چې په تیرو وختونو کې د متحده ایالاتو او افغانستان د ستراتیژیکو خبرو په پایلو کي منځته راغلي وو.

ولسمشر بارک اوباما او ولسمشر حامد کرزي د دومداره ستراتیژیک مشارکت لپاره د امریکې او افغانستان د حکومتونو او د دواړو هیوادونو د ولسونو ترمنځ د خپلو زیاتیدونکو همکاریو او ژمنو په پراخولو بیا ټینګار وکړ. دا مشارکت د ګډو ګټو او موخو او متقابل د رناوي پر بنسټ ولاړ دی. دواړو خواوو اعلام وکړ چي یو خپلواکه، باثباته، خوندي، سوله ایز او په اقتصادي لحاظ د مناسبي ودي او پرمختګ لرونکی افغانستان چي له خپلو ټولو ګاونډیو او د سیمي هیوادونو سره دوستانه اړیکي ولري، د سیمي ثبات او نړیوال امنیت ته خورا مهم دی.

**دافغانستان د راتلونکي خوندیتوب**

ولسمشر اوباما د افغانستان د خلکو د زړه ورتوب او هوډ چي د ځړنوخ افراطیت په وړاندي به مقاومت کوي ستاینه وکړه او دا پر دي اطمینان چي د دوي هیواد به یوځل بیا د القاعده په ګډون دترهګرو لپاره د امن په پټنځای بدل نشي. ولسمشر کرزي د ۴٦ هیوادونو د حیاتي ملاتړ له امله چي د شمالي اتلانتیک تړون (ناټو) او نړیوال سوله ساتونکي ځواک (ایساف) سره د عسکرو په استولو کي مرسته کوي، او همدا راز د هغو هڅو په اړه چي په افغانستان کي د ثبات د راوستلو لپاره تر سره کیږي، ژوره قدرداني څرګنده کړه. ولسمشر کرزي له هغو امریکایي نارینه او ښځو څخه چي د افغان او نړیوالو پوځونو تر څنګ، د افغانستان د خلکو لپاره د یوه ښه راتلونکي لپاره قرباني ورکړي، ژور درناوی څرګند کړ.

برسیره پر دی، دواړو هیوادونو د ملکي خلکو پر غمجنو تلفاتو باندي خواشیني څرګنده کړه او ژمنه یي وکړه چي د ملکي خلکو د تلفاتو د مخنیوي لپاره به خپلي هڅي لا زیاتي کړي.

ولسمشر اوباما او ولسمشر کرزي د افغان حکومت د امنيت په برخه کي د زياتېدونکي مسوولیت د قبلولو لپاره د ټینګ هوډ د په اړه قدرداني وکړه. هغوي همدا را په ټالين کي د اپرېل په ۲۲ او ۲۳مه د ناټو د بهرنيو چارو وزيرانو د ناستي د وروستي هوکړي چي په بر بنسټ به يي د روان کال په دوبي کي د مسؤوليت د لېږدولو د ګډ چوکاټ په اړه اعلان شي، هرکلي وکړ. برسېره پر دي، ولسمشر کرزي په ناامنه سيمو کي د افغان قواوو لخوا د عملياتو د سر ته رسولو لپاره او همدا راز د هغوی لخوا د بشپړ امنيت د مسؤوليت په اخيستلو ټينګار وکړ.

دواړو ولسمشرانو، د افغانستان د ملي امنيت د ځواکونو د ورتيا د لوړولو لپاره په منظم ډول د امنيتی مسؤوليت د تدريجي او مشروط انتقال لړی، اړينه وبلله. پدي اړه، د افغانستان حکومت د امنيت د ټینګولو او د کورنيو او بهرنيو ګواښونو په وړاندی د خونديتوب لپاره د افغان امنيتي ځواکونو لخوا د زياتېدونکي ونډي د اخيستلو په موخه د روزني، تجهيز او د امريکي د اوږدمهالي ژمني هرکلي وکړ. ولسمشر کرزي د افغان امنيتي ځواکونو د روزني او تجهيز په برخه کي د نړيوالو پوځي مرستو په اړه د ولسمشر اوباما د ټينګار ملاتړ وکړ.

برسېره پر دی، د امريکي متحده ايالاتو، افغانستان ته د توقيف ځايونو د مسؤوليت پر انتقال، پر خپلي ژمني ټینګار وکړ. دا لړی به د ۲۰۱۱ کال په جنوری کي د پروان په ولايت کي پيل شي، د دواړو هيوادونو ولسمشرانو خپلو اړوندو سلاکارانو ته دنده ورکړه چي د مسؤوليت د انتقال لړی ګړندی او او روښانه کړي. د دواړو هيوادونو ولسمشرانو دا څرګنده کړه چي د دې لړی پيل به د ولسمشر کرزي د لوړي په بيانيه کي د ژمني د پلي کولو لپاره د توقيف ځايونو عملياتو د بشپړو منلو په اړه، د پام وړ مهم ټکی وي.

ولسمرکرزي، د انتقالي لړی د يوي برخي په توګه، د تأديبي امن د يو خوندي سيستم د رامنځته کولو لپاره د متحده ايالاتو له دوامداره مرستو څخه هرکلی وکړ.

ولسمشر اوباما همدا راز د امريکي متحده ايالاتو لخوا د افغانستان ملي حاکميت ته د درناوي پر ټینګار، د افغان ملی امنيتي ځواکونو لخوا کشفي، نيولو او توقيفي عملياتو پر سرته رسولو خپله ژوره هيله څرګنده کړه. د دواړه هيوادونو ولسمشرانو د دواړو هيواد د فاعي چارو سترو

سلاکارونو ته هدایت ورکړ چې د دی انتقالی دوران د ګړندی کولو لپاره او د افغانستان لومړیتوبونو ته د روښانه کولو لپاره لا زیات او اضافی ګامونه اوچت کړی.

ولسمشر اوباما او ولسمشر کرزي د سولې او روغې جوړې په لار کې د افغانستان د دولت تر رهبری لاندې هڅې، مهمې وبللې. پدې اړه، د امریکې متحده ایالاتو د روغې جوړې او بیا یو ځای کېدلو له لړی څخه خپل ملاتړ څرګند کړ، هغه لړی چې هغو کسانو ته چې له القاعده سره خپلې اړیکې شلوي، د افغانستان په وړاندې له تاوتریخوالي څخه لاس آخلي او د افغانستان اساسي قانون منې او همدا راز له بشري حقونو څخه ملاتړ کوي او د ښځو برابري منې، د درناوي وړ ټولنیز ځای برابر کړي.

د امریکې متحده ایالات د سولې له مشورتي جرګې د جوړېدو په اړه چې د یوې هراړخیزې لړی په توګه چې د ښځو او نارینه په ګډون د ټولنې د ټولو ډلو د نمایندګانو غوښتنې او لومړیتوبونه په نظر کې ونیسي، خپل هرکلی څرګند کړ.

**د حکومتداری ټینګول او د اقتصادي فرصتونو پراخول**

د امریکې متحده ایالاتو پر خپلې ژمنې پر دې چې د افغانستان دولت به د خلکو اړتیاوو ته رسیدګې لپاره د بنسټونو او سرچینو د پراخولو توان پیدا کړي، ټینګار وکړ. ولسمشر کرزي د افغانستان له خلکو څخه د ملاتړ لپاره د امریکې د متحده ایالاتو د اوږد مهالې ژمنې څخه خپله ژوره کورودانې څرګنده کړه.

ولسمشر اوباما د افغانستان د بیارغاونې او اقتصادي مرستو لپاره د امریکې د متحده ایالاتو پر اوږدمهاله ژمنه ټینګار وکړ او د افغانستان په حکومتي او ملي کچه د اغېزناکه او مسؤولو حکومتي بنسټونو د رامنځته کولو لپاره یې د افغانستان د ژمنې هرکلی وکړ. هغه د افغانستان په دولت کې د ظرفیت د رامنځته کولو لپاره د د دواړه دولتونو پر ګډو هڅو ټینګار وکړ او د افغانستان د اقتصادي پرمختګ او د لا زیات مسؤولیت د اخیستلو په موخه یې د حساب ورکولو سیستم، مسلکي کېدلو، مالي مدیریت او د افغانستان وزارتونو او عمده بنسټونو د نظارتي ظرفیت د ښه والي لپاره ژمنه وکړه.

ړدي اړه، د امريکي متحده ايالاتو د افغانستان دولت له تصميم څخه د هغو عمده زېربنايي پروژو چي دوامداره اقتصادي ودي او د خصوصي سکتور د پرمختګ لپاره اړيني دي د پيل لپاره، ملاتړ کوي. د دواړو هيوادونو ولسمشرانو د افغانستان دولتي بودجي ته د امريکي د متحده ايالاتو د لږ تر لږه ۵۰سليزو د لېږدولو د ضرورت پر دوام ټينګار او د امريکي د متحده ايالاتو د مرستو د همغږۍ د زياتوالي لپاره چي لا تر اوسه د افغانستان د دولت له لاري عملي شوي ندي، د نورو ميکانيزمونو د جوړولو پر ضرورت ټينګار وکړ.

برسېره پر دې، د امريکي متحده ايالاتو ژمنه وکړه تر څو د افغان کارکوونکو په استخدام کي خپلي هڅي لا زياتي کړي او د خپل ضروت وړ يوه زياته برخه مواد له افغاني سرچينو څخه تر لاسه کړي.

**د اداري فساد سره مقابله او د شفافيت ډېروالى**

دواړو هيوادونو په دې هوکړه وکړه چي د افغانستان په ټولو برخو کي له اداري فــــساد مبارزه د يو مهم لومړيتوب په هکله ګڼل کېږي. ولسمشر اوباما د افغانستان او امريکا تر منځ د ټولو قراردادونو د لړۍ د څارني پر زياتوالي ژمنه وکړه. ولسمشر کرزي د لوړي مراسمو په بيانيه کي د ژمني پر بنسټ، د ټولو هغو کسانو پر محاکمه کولو چي په فساد کي لاس لري، بيا ټينګار وکړ. دواړو هيوادونو وکړ چي په ګډه توګه به د حساب ورکولو او له فساد سره د مبارزې په لار کي د قضايي او څارنيزو ميکانيزمونو له لاري هڅه وکړي.

د امريکي متحده ايالاتو له فساد سره د مبارزې د څارني د تګلاري د عالي دفتر د درندو جناياتو د پلټني د ډلي د واکونو په زياتوالي کي د تخنيکي او مالي مرستو له لاري د ولسمشر کرزي له هڅو څخه پر ملاتړ ټينګار وکړ. ولسمشر کرزي په ملي کچه د وړو مقاماتو د استخدام په اړه، د سيمه- ايزي خپلواکي اداري او د ملکي خدمتونو د کمېسيون پر ونډه ټينګار وکړ. هغه همدا راز د اصلاحاتو د ګړنديتوب او رسمي عدلي سکتور ته د خلکو د لاس رسي، د ظرفيت د لوړوالي او په عدلي دولتي بنسټونو کي د فساد د کموالى اړين وباله.

**د افغانستان په ډموکراتيکه لړۍ کي د پرمختګونو ټينګښت**

ولسمشر اوباما په افغانستان کي د انتخاباتو د بنسټونو د ټينګښت لپاره د افغانستان دولت ورسته هڅي وستايلي. د دواړو هيوادونو ولسمشرانو په کال ۲۰۱۰ ړو رواب د ىک واشفافو پارلماني ټاکنو پر اهميت ټينګار وکړ. د امريکي متحده ايالاتو په افغانستان کي د ټاکنو د لړۍ ت ډ تينګښت په اړه، د نړيوالو مرستو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو ونډي څخه هرکلی وکړ. د امريکي متحده ايالات د افغانستنان ډموکراټيکو بنسټونو ته د لا زياتي تخنيکي او مالي مرستو په ورکړه ژمن شو.

ولسمشر کرزي او ولسمشر اوباما يو ځل بيا د بشري او ملکي اساسي حقونو د درناوي پر اړتيا چي په اساسي قانون، د ملګرو ملتونو په منشور او هغه نړيوالو کنوانسيونونو او او موافقت ليکونو ته افغانستان د هغه غړيتوب لري، تسجيل شوي دي، ټينګار وکړ. پدې اړه، هغوی د افغانستان په پراختيايي لړي کي د ټولني د ټولو قشرونو د مسالمت آميز ګډون او د نارينه او ښځو د ځواکمنتيا پر اهميت ټينګار وکړ.

داوړو ولمسشرانو د دې په منلو چي خلکو د افغانستان پراختيا د نيمايي برخي د ونډه اخيستني څخه پرته شوني نده د افغانستان د ټولني په بيا رغاونه کي د ښځو پر بنسټيزي ونډي ټينګار وکړ او هوډ يي وکړ چي بايد د ښځو د حقونو د ملاتړ لپاره لا زيات اقدامات ترسره شي. دواړه ولسمشرانو ټينګار وکړ چي ښځو ځواکمنتيا او د هغوی مدني ګډون د افغانستان د اقتصادي ثبات، امنيت، ښي حکومتدارۍ او پراختيا کي مهمه ونډه لري.

**د سيمه ايزي او نړيوالي ټولني د مرستو ونډه**

ولسمشر اوبا او ولسمشر کرزي دواړو يو ځای له نړيوالي ټولني څخه غوښتنه وکړه تر څو د افغانستان لپاره خپل دوامداره ملاتړ ته دوام ورکړي. دواړو ولسمشرانو په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د اغېزمنتيا په اړه خپل موافق نظر څرګند کړ او ژمنه يي وکړه چي د ملګرو ملتونو تر څو د مرسته کوونکو هيوادونو د هڅو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو تر رهبرۍ لاندي ګامونه واخلي.

پدې اړه، ولسمشر اوباما، د امریکې د بهرنیو چاور وزیرې مېرمن هیلری راډم کلنټن ته دنده وسپارله چې د کابل په کنفرانس کې چې د ۲۰۱۰ کال د جولای په ۲۰ نیټه د افغانستان د دولت په کوربه توب ترسره کېږي، د امریکایي پلاوي مشري وکړي. هغه ټینګار وکړ چې امریکایي پلاوی په نظر کې لري تر څو له نړیوالو مرستندویو سره د وګړو لپاره د اقتصادي فرصتونو د ظرفیت جوړولو لپاره د هڅو د چټکتیا، د امنیت ټینګول او ښې حکومتدارۍ لپاره چې د ۲۰۱۰ کال د جنوری د ۲۰مې په لندن کې تر ارزونې او ملاتړ لاندې ونیول شو، د افغانستان دولت مشخص پلانونه، تر ملاتړ لاندې راولي.

ولسمشر اوباما او ولسمشر کرزي، د سیمه ایز امنیت په ټینګښت او د غیرقانوني مالي او د جنایت کوونکو او ترهګرو له شبکو سره په مبارزه او سیمه ایزو مرستو پر اهمیت ټینګار وکړ. دواړه ولسمشرانو د سیمه ایز تجارت او ترانزیت د آسانتیا او له هغې جملې څخه د افغانستان د ثبات او پراختیا لپاره اړتیا وړ مواد د ترانزیت او د ګاونډیو هیوادونو د ملاتړ پر اهمیت هوکړه وکړه.

**لرلید او اوږدمهالی مشارکت**

د امریکې متحده ایالات او افغانستان، په لوړپوړي کچه دیو لړ پراخو دوه اړخیزو بحثونو د سرته رسولو او د افغانستان او د امریکې متحده ایالاتو تر منځ د ۲۰۱۰ کال د ستراتیژیک مشارکت د اعلامیې متن پر بشپړولو چې د ۲۰۰۵ کال د ستراتیژیک مشارکت د اعلامیې پربنا جوړه شویده، ژمنه وکړه. دواړو ولسمشرانو هوکړه وکړه چې دا مباحثات به د دواړو هیوادونو تر منځ د اغېزمنو ستراتیژیکو خبرو اترو چوکاټ د جوړولو او زمونږ تر منځ د اهمیت وړ اوږدمهاله اړیکو او دوامداره ژمنو، لکه ملي حاکمیت، امنیت، دموکراتیکه پراختیا او بنسټ جوړونه، اقتصادی او ټولنیزي پراختیا او سیمه ایزو موضوعاتو د ټینګښت لامل و ګرځي.

تمه کېږي چې افغانستان او امریکا تر منځ د ستراتیژیک مشارکت، بیا کتل شوي اعلامیه، د امریکې متحده ایالاتو او افغانستان تر منځ د ګډې ژمنې او د افغانستان پر راتلونکې ټینګار کوي او دا په ډاګه کوي چې افغانستان څرنګه هوډ لري تر څو په زیاتېدونکي توګه د خپل امنیت او پراختیا مسؤولیت په غاړه واخلی او همدا راز دا څرګند کړي چې د امریکې متحده

ایالات څرنګه تصمیم لري چې تر څو د افغانستان د توان په موخه د د سیمي د ثبات او سوکالي د مرستي لپاره، لدې هیواد سره مرسته وکړي.